مسئله چهارم اینکه آنها زیاد مصارف نمودند بودجه ها ی زیادی رادرافغانستان مصرف نمودند ولی مصرف بی نتیجه که درطول نه ویا ده سال که درافغانستان جنگیدند جزاینکه باختند هیچ چیزی بدست نیاوردند این مسئله باعث شد که ، جنگ بی نتیجه را خاتمه بدهند وشکست راپذیرند .

سوال :- آیا مشاورین خارجی خصوصاً روسی ویامندی بارژیم کابل همکاری دارند ؟

جواب :- بل طبق راپورهای رسیده که بیشترازسه هزارنفر ازمشاورین وعساکر روسی درافغانستان موجود است وهمه پلان های دولت درارابطه به آنها طرح می شود وکارهای شان را روس ها انجام میدهند . این مسئله راراپورها ی مکرر تائیدکرده است که روس ها بارژیم کابل درداخل کشورهمکاری دارند مشاورین هندی باساس گذارش ها موجود اند .

سوال :- لطفاً درمورد اثرات

انقلاب اسلامی افغانستان درجهان خصوصاً بالای جمهوریت های مسلمان نشین تحت استعماروس اندکی معلومات بدهید ؟

جواب :- انقلاب اسلامی افغانستان نه تنهاکه خود این ملت را بیدارساخت وآگاهی داد واین فکررا بمردم داد که دیگرهیچ قدرتی درجهان نخواهدبود که بتواند درافغانستان حکومت کند ومردم این منطق را تحت تاثیر درآورد .

درجهان بیرونی هم انقلاب تاثیر زیادی بجاگذاشت خصوصاً درممالك همسایه درپاکستان درایران ،ودرجهان اسلام که همه مسلمان های جهان که تاحال محکوم استعماربودند آنها ازروس وامریکا وقدرت های استعماری می ترسیدند اما به همه معلوم شدکه جنگ باروس وامریکا وبابزرگترین قدرت ها کارساده است تنها چیزیکه مهم است جرئت وخود را به خداوند (ج) سپردن است که بزرگترین قدرت ودرهم کوبنده همه قدرت هاست ودرضمن داشتن ایمان کامل و عقیده سالم میتواند که دربرابر همه قدرت ها ضعیف ترین ملت ها را ایستادکندوبزرگترین قدرت ها را شکست بدهد .

حالاتمام ممالك اسلامی مسئله رادرك کرده اند ودرهرجا سروصداهاایجاد شده جنبش های اسلامی درهرجا به حرکت درآمدند ،بهم نزدیك شدند ،ارتباطات محکم شد ، روابط شان باهم نیك ترگردیدواین مسئله بزرگترین تاثیریست که انقلاب اسلامی درجهان بجاگذاشت .

درقسمت دوم مسئله بایدگفت : همه میدانند که درترکستان روسی وساحات ملیت های محکوم چه وضعی بوده این مسئله راضح است که همه متاثرازانقلاب اسلامی افغانستان شده اند آنها این جرئت راپیداکردند که حق خویش رابخواهند ودرزیرپرده خواستن آزادی وخود مختاری وحقوق خواستن امکان دارد که اهداف زیاد دیگری نیز نهفته باشدکه عبارت ازمسایل اسلام ودرآینده اگر خدابخواهد ایجاد حکومت اسلامی باشدکه درضمیرشان این مسئله نهفته است . اماتاثیرانقلاب این است که به آنها این جرئت را دادکه درمقابل کمونیزم قیام کنند درحالیکه درروس نام بردن ازآزادی گناه محسوب می شود تاحال این مسئله درتاریخ روس سراغ نمی شد . ولی امروز درسراسرروسیه صدای آزادی خواهی بلند است مردم آزادی وخودمختاری می خواهند وپیمان های سری که درزمان استالین تصویب شده بود که قسمت ها ی شمال روسیه را مربوط روس ساخته بودند حالاآن ملت ها قیام می کنند ، تظاهرات می کند ، اعتراض می کنند و خود مختاری می خواهندهمه ازاثرات انقلاب اسلامی است .

سوال : درموردانتخابات چگونه فکر می نمائید ؟

انتخابات برای ایجادیك حکومت دل خواه مردم یك اصل است واین شوری وانتخاب رایك اصل اسلامی میدانیم ولی چیزیکه مهم است این انتخاب ازانتخابات حکومت های غیراسلامی فرق داشته باشد . انتخاباتی که مردم باپول خریداری می شوند ،افکارآزادنیست ، آرامشان بازورازایشان گرفته می شود ازاین مسایل باید شدیداً جلوگیری صورت گیردانتخابات آزاد ولی رای درمجموع مربوط اهل رای یعنی مردمیکه صاحب نظرباشند . مردم صاحب نظراهل رای ، رای شان باارزش ترباشد که بایك هوشیاری وشناخت کامل به افراد ورهبرها رای بدهند وانتخاب کنند که یك انتخاب سالم باشد ، واز هرنوع کاندیدشخصی فشارروابط نامشروع اسلامی وحتی دوراز خریداری باپول این مسایل ارزش دارد یعنی اهل نظر،نظرآزاد بدهند وحکومت دل خواه خودرا انتخاب بکنند که همین حکومت مردم می باشد ونظرمردم درآن دخیل می باشد .

آن حکومت بازمی تواندکه ارمان مردم راتحقق بخشد .

سوال : رژیم کابل بعدازچه مدتی ودرکدام صورت بدست مجاهدین سرنگون خواهد گردید ؟

جواب :- اگر مامدت زمانی برای سقوط یك رژیم تعین کنیم عوامل مختلف باعث سقوط یك رژیم وباعث نگهداشت یك رژیم میشوند . مامی گوئیم که این رژیم حتماً سقوط می کنداین مسئله است که رژیم بایدسقوط کند ولی درکدام روز ودرکدام سال ، گفتن این مسئله مشکل است . تنها مامی گویم که هرقدرمجاهدین بهم نزدیك شوند تحت قومانده ها واحد درآیند ،صف ها منظم شوند رژیم زودترسقوط می کند . والحمدلله که فعلاً درین رابطه کارزیادمی شود ، دراطراف کابل فعالیت ها بسیارزیاداست .

تااحزاب بهم نزدیك شوند ، درین روز ها بالای دولت کابل فشارشدید است . سروصدائیکه ازنجیب دررادیو ها بالامی شود بیانگر اینست که تحت فشاروتهدید زیاد است. همچنان میگوید که مسائل ازطریق صلح حل شوند با مصالحه ملی ویااز طریق ممالك بیرونی حل سیاسی صورت گیرد ،دال براینست که رژیم به تنگ آمده زودترسقوط میکندوروبه زوال است جریان خودش مسئله را روشن می سازد .

مامیگوئیم که رژیم انشاءالله زودترسقوط می کندوعوامل سقوط آن هم وحدت ماست .

سوال :- کدام ساحات ولایت پروان کاپیساتوسط مجاهدین اداره می شود ورژیم کابل درکدام نقاط حاکمیت دارد ؟

جواب :- درپروان کاپیسافضل خداوند که تقریباً نودفیصدساحات اش ازاد است مطلق ساحاتیکه دولت آنها حاکم است بالکل کم است تنا یك قوای داخل که درمنطقه قوای روسی جابجا شده درقلعه سرخ ، درساحات جبل السراج است ومرکزپروان « چاریکار» که آنها هم قوای داخل متمرکزاست وبگرام که درین سه نقطه دولت حاکم است بقیه ساحات ولایت پروان کاپیسابدست مجاهدین بوده کاملاً آزاد می باشد .

سوال :- آیا شاه راه کابل سالنگ بروی کاروان های رژیم کابل بازاست ؟

جواب :-شاه راه کابل سالنگ مدت زیادی می شود که مسدوداست ومجاهدین عملیات می کنند وقتی امیرحزب اسلامی افغانستان به جبهات پروان آمد ازبه مجاهدین دستورداده بودند که این شاه راه ازین به بعد مسدود شود درین شاه راه عملیات صورت میگیرد وراه مسدودمی شود. ولی بخاطراینکه مواادارتزاقی از سمت شمال آورده می شود ومردم به آن احتیاج دارند ، بخاطریکه مواد مورد ضرورت مردم هم ازین راه میآید ،مردم کابل ومردم ساحات پروان رفت وآمد دارند کوشش می شود که شاه راه موقتاً مسدودباشد وبعضاً بروی مردم بازباشد .

ولتیکه که کاروان ها ی دولتی بیاید بالای کاروان ها ی دولتی عملیات صورت میگیرد ولتی کاروان ها نظامی باشد عملیات دوامدارمی باشد .

سوال :- اکثراً عملیات درکدام نقاط صورت میگیرد؟

جواب :- چیزیکه دربیرون انعکاس پیدامی کند وراديوهای « صدای امریکا» و« بی - بی - سی » آنرا بلند می سازند امکان داردکه دورازواقعیت باشد .

واقعیت این است که قسمت زیاد این شاه راه بدست حزب اسلامی است . شمال سالنگ مجموعاً بدست مجاهدین حزب اسلامی است وازخنجان گذشته همه بدست حزب اسلامی است . وازجبل السراج الی کابل بدست حزب اسلامی است .

تنها سالنگ جنوبی بدست برادران جمعیت اسلامی است وبس .که بمضاوقفه یی وهم چنان بسیارمدت شده است که عملیات صورت نگرفته است اما درین وقت ها بعضی انداخت ها درسالنگ صورت می گیرد ولی عملیات عمده و دوامداردرساحات مرکز پروان درقسمت های رباط ، چیکل ،ساحات هوفیان درمناطق استاد فتح محمد صورت میگیرد . وراه ها مسدودمی شوند همچنان برادران غوربندرساحات کوهی سلاح های ثقیله را جابجانموده اند وموضع ها ی شان دران ساحات است که میتوانند هم شهرچاریکاراوهم شاه راه راتهدیدکنند وفشاروارد کنند ومسدودش بسازند . به این حساب دراین ساحات ناحیه « قلعه مرادبیگ » نزدیك کابل بدست برادران حزب است و عملیات صورت میگیرد . عملیات ها کاملاً موثر بوده چون این راه اگر مسدودباشد دولت کابل اکمال نشود ، ازعوامل سقوط رژیم کابل یکی هم مسدودنمودن شاه راه

دروسانو پوځي يرغل...

ناکامي سره مخامخ شوي داځکه چه ديوه مسمم ملت اراده هيڅ مادي قوت نشي ماتولاي کله چي ولسونه دايمان په وسله سمبال اودعقيدي په تصريك رااوچت شي اودهدف دپاره کولوپه خاطر قرباني ته چمتوشي هيڅ قوت پدوي غلبه نشي موندلاي .

دافغانستان مومن ملت به که خداي کول ددي تهـولـوستـونـځـو اومشکلاتودکي کچونو نه موفق تيريږي اودخپل کامل خپلواکي په حاصلولو به توانيږي داځکه چي دوي دآزادي دحاصلولوپه لپارکي نه هيريدونکي مثال قرباني تمثل کړي – کـلي اوکـورونه يي دوحشيانه بمبارۍپه ترڅ کـي وران شـول . سړکونه اوسردري ، کـل اوښارونه، عسکري قشل اودپوليسوماموريتونه زندانونه اودزندانيانو لپاره ددسته جمعي اعدامونو اوقتلونوځايونه ، تهـول اوتـول هـرځـاي اوهـره خواد باايمانه وطنخواهانو په سرو وينو سره دي .

پـه دي تيـروشلـوميـاشتـوکـي ترنوي(۹۰) زرونه زيات کسان په قتل ورسيدل . ترپنځوسو زرو نه زياتـوکسانـو خپـل کـورکـل لـه ورانيدونه وروسته پريښي ايران اوپاکستان ته په هجرت مجبورشول تـرسلـو زرونـه زيـات کسـان پـه زنـدانـونـو کـي په پوره بيرحمـي اوقساوت شکنجـه اوتعـذيـب شـول اوملګيا دي رپېول کيږي ، دخلکو

کـورونه لوټ مـارشـول دولـس پـه عـزت اوناموس تيـري وشـو، اودعسکري سوقياتو په ترڅ کي دمحـل خلکـوسـره هغـه نـاروا اوناجايزسلوك شوي چه نه يواځي دتازيانواوچنګيزيانو يرغلونه ورته هيڅ دي بلکه دبـاحيـا خلکـولپاره ددي وحشيانه جنايـاتو يادول هم گران دي .

دادبيرحمي اوقساوت زړه دردونکي صحنـي اودادلـوټ مـاراوتـاراج وحشيانه مناظرهيڅکله دوطنوالو په لاس دخپلووطنوالوپه خلاف نشي سرته رسيداي ، دا دبيګانه پرستانو په نـاولولاسـونـودبيګانګانوپه هدايت اوقومانده په افغان ولس تحميل شوي .

دافغـانستـان دمـوجـودہ زړه دردوونکوجريانانوعاملين اومسئولين هغه بهرني قوتونه دي چي اوسني مرتداوارداتي رژيم يي صحني ته راويستل ،هغه يي دولس په خلاف په وسلوسمبال کړي اودادامي لپاره يي خپل ټول وسائل اوذرايع په کاراچول .

زموږدشهيدانوقاتلان اودشتمنيولوټ ماران هغه روسان دي چي ددي وطـن خـرڅـوونکـي رژيـم تـرشـا ولاړاوزمـوږ دولـس پـه سردبمباريواودتوپ ټانګ داستعمال لومانده ورکوي .

دافغانستان اسلامي حزب دخپـل ولـس پرنمـاينـدګي ټولو خـارجـي قوتونوته اعلام کوي چي زموږ په کورني چاروکي له ناروامداخلواولاس وهنوڅخه ډډه وکړي که نه ددي ټولو قتلونو اومرګ ژوبل مسئوليت به ددوي په غاړه وي .

موږ دپرديوتسلط نشومنلاي سپين کفن مواغوستلاي دشهادت مقام ته درسيدلوپه غرض تراخرني سلګي داستعمارګرانواودهغوي دسياسي مزدورانو مقابله کوو . استعمارګرانو تـه پـه ډاګـه وايـو. څـوك چـي دشهادت لپاره غوره کړي هيڅ قوت اوهيڅ حادثه يي نشي ويرولاي اودبهرنيوقوتونو لاس وهني دهغوي ټينګ عزم نشي ماتولاي .

دافغانستان ولس پدي پوهيدلاي چـي ډيـري مـودي راهيسـي داستعمـارپه منګـولـوکـي داسـارت ژونـدتيـروي کله په مستقيم ډول داستعمـارپـه اسـارت کـي راغـلـ ، خـوکلـه چـي استعمـاري قـوتـونـه ونشوتوانيداي چه په مستقيم ډول پدي ملت خپـل تسلـط تـه دوام ورکـړي نـودسيـاسـي ايجنتـانـو داستشدام په ذريعه ئي داملت په اسارت کـي سـاتـلاي دي ، پـدي سلسله کي استعمارګرانو، کله شاه شجاع ګـان اودهغه پلـوي ، کلـه غدارنادراودهغه بقايا ،کله خائـن داود اودهغه چاپيريالان اوکله تره کي اودهغه بي شخصيته خلقيان په خپل خدمت کي ګمارل . دايواځـي تـره کـي اوامـيـن نـدي چـه دپرديوخدمت ته يي ملاتړل بلکه (. پرديوته دخدمت مسلك) له سابقه فاسدورژيمونو نه تره کي اوامين ته په ميراث پاتي دي . دافغانستان سابقه نامسلمانه رژيمونه نه يواځي دپرديودګټوساتنه کړي اودهغوي دفـرهنګ تهـذيـب اوکـاذب مـدنيـت دخوروولو اوپه افغانستان کي دهغه دپياده کولوټول کوششونه کړي بلکه دوي دپرديو دمذهب پابندۍدهغوي په تهذيب مهذب اودهغوي بدفرهنګ په لوموکي راګيرشوي-غلامان ول ،وطن پلورونکو واکدارانو تل دخپل ولس دغني فـرهنګ مقابله کـړي ، دملت دتهذيب اوديانت په خلاف يي هل ځل کړي اوحتي دافغانستان دبـاايمـانـه ملت لـرغـونـي اواصيـل فـرهنـګ يـي دخپـل طفيـل الاقتدارختميدووسيله ګڼل ، پدي خـاطـر دوي په خپل ټول توان اوطاقت دهغه دختميدو او په غربي فرهنګ اوتمدن دبدليدو کوشش کـاوه ، اجنبي پـرستـانـو دهغـوي اسلامي قوتونو دودي تمثل نشواي کولاي کوم چي پدي غني فرهنګ اواصل تهذيب مجهزول .

دافغانستان نـژدي تاريـخ پـدي دردنـاك حقيقـت پـوره شهـادت ورکوي .

په ظاهرشاهي فاسدورکي کله چه په علم اوايمان مجهزاسلامي تحريك رااوچت شوددي اسلامي تحريك متعهد افراد دمسلماني په جرم اوله خپل ملت سره دميني درلودو په ګناه زندانوته سپارل کيدل پداسي حال کي چه بيګانه پرستان ددي دوردفاسدو حکمرانانو په لمن کي روزل کيدل اوددوي دلازياتي ودي لپاره ټول شـرايـط اوامکـانـات برابريدل :

دمکـارداوددااقتدارپه دوران کـي خلقيان اوپرچميان اوټول هغه وطن پلورونکي مرتدعناصرکوم چي له بهرنه يي الهام اخيست او دپرديوپه مټومتکي وو دچاني اوسفاك داود ترخوادااقتدارواګي يي په لاس کي

درلودي خوباايمانه مبارزين اوشرف وطنخواهان زندان ته سپارل کيدل په شهـادت رسيـدل اوپه اعـدام محکوميدل :

زموږ دتيرتاريخ دټولوجريانانو اوپيښودڅرنګوالي اصل غندسپدي حقيقت مبتني وو چه په دينـي فـرهنـګ مجهـزوطـن خـواهـان محکوميدل اووطن خرڅـوونکـي مرتدعناصرتقويه کيدل .

داحقيقت هرچاته څرګندډي چه داوسني رژيم ټول مقدمات دمخکني فاسدورژيمونو په لاس اېښودل شوي اودتيرو تاريخي پيښوطبيعي جريـان نن دکمونيزم په شکـل راڅرګندشوي .

کمـونيـزم دفسـاداخـري پړاواودګمراهي اوانحراف وروستني

مرحله د.. چي ترهغه نه د.. ..ات فساد اوانحراف تصورنشي کيداي .

خـودادحکيـم خـداي (ج) نـه بدليدونکي سنت دي چه هـره پديده به دخپل نهايي کمال اومعراج ته وروسته په اضمحلال محکوميږي اودهري شي په پاي مکي به رنها اوسهاوون راځي نورنو زمونږ دهيوادپه فضـاکي دفساد تياره شپه په ختميدو اودصلاح رڼي سهـاوون په راختـودي ، دانقـلاب پدي حسـاسه مرحلـه کي مونـږ دافغانستان دمومن ملت اردو ته اعلان کووچه :

۱) داوسني مرتد رژيم له حمايي څخه ژرترژره لاس واخلي دمجاهدينو په خلاف له بي ځايه مقاومت څخه ډډه وکړي اودکفر اوکمونيزم په خدمت کي له استعماليدو څخه ګان وساتي اودافغانستان دمسلمان ملت په ونيواخستل شوي وسله ددوي دوينو دتويولوپه لپارکي استعمال نکړي .

دپـوهـومـن ملـت اردو هيڅکلـه دپرديولپاره دهغه پله حيثيت نـه غوره کوي کوم چي له هغه نه په استفـادي سـره دوطـن دشمنـان دهيوادپه پاکـه سپنه پـل شـي اوپادوي دملت دسرکوبي په جهت کي په شعوري اولاشعوري ډول استخدام کړي .

که داردو مومن افسران ددشمن په لاس په شهادت ورسيږي داشهادت دوي ته ترډي نه ډيرغوره دي چه ددوي په لاس باايمانه مجاهدين په وينوسره شي .

څوك چي ايمان لـري اولـه خپـل ولـس سره مينه ساتي هيڅکله به

دپرديوترقومانـدي لانـدي دخپل ولس په ضدوسله اوچته نکړي دا ډيـره دننـګ خبـره ده چـي دافغانستان دغيرتمند ملت افراد دي دروسي قومندانانو ترهدايت لاندي دملت په خلاف توپ او ټانګ استعمال کـړي دبيګناه ولـس پـه بمبـاريـودي لاس پـوري کـړي اوددوي لاسونه دي دخپلو ورونړو په وينو سره شي .

اياتردي دزيات ذلت تصورکيداي شـي چـه ديـهـوه مـاـت دمقدساتواونواميسوساتونکي قوت دي دپرديو په لاس دخپل ولس په ضدپدي غرض وجنګولاي شي چه دهيوادوګړي داستعمارګرانواسارت اوغلامي تـه غـاړه کيـږدي اودينـي نواميس اوملي مقدسات دي پايمال شي .

دافغـانستـان اسـلامـي حـزب داردوهغوافسرانوته چه له رژيم نه ددفاع په جهت کي په ارادي ډول لګيادي دانقلاب په وړاندي خنډونه اچوي په قاطع الفاظواوپريکړي چملو وايي کـه تـردي نـه وروسته دوي دمرتدرژيم ترڅنګ له ودريدلو څخه ډډه ونکـړي دبـري نـه وروسته لدوي سره دانقلابيونو دمعامل د څرنګوالي مسئوليت به په خپله ددوي په غاړه وي ، رژيم له حتمي سقوط سره مخامخ دي ، دجانيانو اوقاتلانودوحشيانه جرمونودشريك جرم عناصرو شوم عاقبت مسلما خطرناك دي .

موږټولو هغوکسانوته کوم چه ترننه دمجبوريت په بنا اوياپه ناګاهانه ډول دانقلاب په ضدودريدل بلنه ورکوو چي ژرترژره له مجاهدينوسره يوځاي کيدو په وجه خپل نومونه لـه تـورو لستـونـوڅخـه حـذف اودافغـانستان دآزادي په لپارکـي دخپـل بـاايمـانـه ورونـړو تـرڅنـګ داجنبـي پـرسـت رژيـم پـه ضدسنګرونيسي اوپدي ترتيب خپل ايماني مسئوليت ترسره کړي .

دحزب اسلامي مومن مجاهدين به ټول هغه نظامي افسران اوعسکري افراد په وريـن تندي اوخلاصه

غيراستثبال کيږي کوم چي يي دجهـادادامـي پـه غـرض دمجاهدينوخواته ودريدل غواړي داسي عسکري قطعاتوته په دمنظم جهاد دادامي ټول شرايط برابريږي ، لکـه څنګـه چـي دزابـل اواسماردغنډونو مجاهد افسران اوزړورافراد اومتعدد نورعسکري

قطعات دحزب اسلامي مجاهدينو سره ديوځاي کيدونه وروسته په پوره ډاډاواطمينان خپل اسلامي جهادته دوام ورکړي دوي به هم په منظم اومطمئن ډول دجهاد دادامي امکانات لاس ته راوړي .

دمرتدرژيم واکداران اودهغه بي دينه پلويان بايد پدي پوه شي چي دافغانستان ولس پداسي حال کي چي کمونيست رژيم دچارو واګي په لاس کي لري عسکري خدمت ته دخپلوورونو اوځامنو له ليږلوڅخه په کلکه اجتناب کوي دافغانستان دزياتـوازادو سيموچلبي افـراد وعسکـري خـدمـت تـه لـه حاضريدلوڅخه ډډه کړي اودرژيم په نفع دعسکري خدمت په ځاي دمجاهدينو سره يوځاي شوي اوپه مسلح جهاديي لاس پوري کړي همداراز هغه افرادچه دخدمت دوره

چي يي پوره شوي اواجبارادزيات خدمت لپاره په زورساتل شوي دترخيص مطالبـي کـوي ددي غوښتنوپه بناپه اکثروعسکري قطعاتو کي شديد برخوردونه اومسلح اخ وډب منـځ تـه راغـلـ زړورو عسکرو-کمونست افسران په قتل رسولي اوپه خپله وسله سمبال دمجاهدينو څنګ ته تللي اوترننه په جهادبوخت دي .

ددي سلسل طبيعي نتيجـه داده چي په دي لنډو شپو ورځوکي به رژيم له لازياتو ستونځو سره مخامخ کيږي بايددافغانستان اردومخکي لدي چه دانقلاب په څپوکي ددوي موجوديت ختم شي دخپلواك افغانستان دجوړولو په خاطرخپل اخري ګذاردناولي رژيم دمرتدو واکدارانو پـه سـرحـوالـه کـړي اودهيواد دخپلواکي په لاس ته راوړلوکي خپل ايماني نقش ترسره اوعظيم افتخارترلاسه کړي :

ژوندي دي وي اسلام

بـريـالي دوي دهيـوادبـاايمـانـه مجاهدين

مـرګ پـروطـن پلـورونکـو مرتدوواکدارانو

تل دي وي خپلواك افغانستان

ظاهرشاه ونجيب فرقي ندارد

مولانا سميع الحق دريك كنفرانس مطبوعاتي گفته است كه پادشاه سابق ظاهرشاه نمي تواند به افغانستان برگرددوي اظهارداشت كسيكه درجريان يازده سال جهادبه حمايت مجاهدين وعليه اشغال روس نه گفته باشد ازهيچ زخمي عيادت نكرده باشد ودرفاتحه كدام شهيدي حضورنيافته باشد ازاو اين توقعي كه مجاهدين وي را بحيث پادشاه بپذيرد هيچ قابل تصورنيست وي گفت. كه قبايل پاكستاني حالابيزطرفدارمجاهدين اند وازموقف آنان حمايت ميكندوي افزوددربين ظاهرشاه ونجيب هيچ فرقي نيست وبه آمدن وي جهادختم نمي شود . بلكه تاحكومت اسلامي جهادادامه ميابد اوگفت كه وي باجرگه تحت نام قبايل دروزيرستان كه ميرانشاه منعقد گردند بودهيچ ارتباطي ندارد اين جرگه كساني بود كه سالها ازافغانستان مشت پول حقوق مي گيرند اودراخير افزود كه ماتعهدكرديم كه تاپيروزي جهاد شانه به شانه همراه مجاهدين افغان برعليه روس وكمونيزم جهاد كنيم .

پاکستان کی موجودہ پالیسی جنگ بندی میں رکاوٹ ہے۔ افغانستان میں کوئی بھی اس پالیسی سے خوش نہیں ہے (صدر نجیب)

دروسانو دیرغل په باب دشهید ضیاالحق لومړنۍ ولوله انګیزه وینا

دناګار: ژباړه

دادهغه تاریخي وینادکټ مټ پښتوژباړه ده چې داسلامي هیوادونو دبهرنیو چارو دوزیرانو په غونډه کې پرافغانستان له روسي پوځي یرغل وروسته د(۱۹۷۹) کال ددسمبرپه «۱۷» مه شهید جنرال نړیوالوته دپیغام په شکل وړاندې کړې وه داغونډه په اسلام آبادکې وه .

بسم الله الرحمن الرحیم
الحمدلله رب العالمین والصلوه والسلام علی خاتم النبیین ٥
جناب علی مقام بوستیه صیب !
دبهرنیو چارو درنو وزیرانو !
عزت منو ګډون کوونکو!
السلام علیکم !

دبهرنیو چارو دوزیرانو دالومړی اسلامي غونډه دمعمول پرخلاف دیوه ډیرنازک حالت دغورکولپاره جوړه شوې ده ، داغیرمعمول حالت زموږ پرهمسایه ، ناپییلی اواسلامي هیوادافغانستان باندې دروس له پوځي تیري نه زیږیدلی دی .

دلی غیرمعمولی غونډې ته دګډون لپاره چې کومو وزیرانو اونورو منسوبینو دخپلو رنګارنګه مصروفیتونو سره سره تشریف راوړی ، زه رته دپاکستان دحکومت اوولس له اړخه ښه راغلاست وایم ، اوهیله لرم چې نه یوازې به په پاکستان کې دهغوی وخت ښه تیرشي ، بلکې دکومې نیکې هیلې لپاره چې راټول شوي دي په هغې کې به هم بریالي شي .

موږ نیک بخته یو، چې دغونډې لپاره پاکستان انتخاب شو، دوخت له کمي سره سره موږ دخپلو وسایلو اووسی سره سم ددې غونډې پوره اهتمام کړی دی ، که زموږ له زیارونو سره هم څه ، خامې پاتې شي . هیله من یو ، چې وبه یې ښښی .

داکنفرانس دنړۍ په مهمو اوپراخو سیمو کې دمیشتو ، نوي کروړو مسلمانانو نماینده غونډه ده ، تاسو له ماښه پوهیږئ ، چې دانوي کروړه خلک پریوه خدای (ج) په یورسول اویوکتاب ایمان لري ، اوپرځای ورته داسلامي امت رکن ویل کیږي، زه د زوروخدای (ج) شکرکوونکی یم ، چې هغه د امت دغوره ایمان اوډژوند دپوره نظریې په لوړولو سره سره په رخه ور، مادي اوبشري وسایلو هم وپاله . له دې ملت سره ترلی زیات هیوادونه دنړۍ په داسې ایکوکي واقع دي ، چې دبین الملل امن اونړیوالو لپاره ځانګړې اهمیت لري دغوروړخبره داده .چې له جغرافیایي اوانساني پلوه لوی ، اوله دیني اړخه داهې ساري ملت ولې په ننني زمانه کې له ډول ډول مصیبتونو سره لاس اوګریوان دی . له یوی خوا دمسلمانانو لومړنی قبله دغوروپه والک کې ده .

اوفلسطین اوکشمیرولسونه پخپلوحقوقو ویرول کیږي ، له بل خوا زموږ ایراني وروڼه چې داسلامي انقلاب په استحکام بوخت دي ، په ډول ډول ګوابونو یې دمرعوبولو زیارګالل کیږي ددې لړی نوی اوتازه پیښه چې ټوله نړۍ یې لړزولې ده ، پرافغانستان روسي یرغل دی . دا یرغل چې ګڼ شمیر روسي پوځونه پکې برخه لري دبین الملل اړیکو دبنسټیزواصولو سراسرمخالفت دی ، ددې تیري ښکارهغه افغاني ولس دی ، چې کله یې هم دپردولوړوالي اوحاکمیت ته سرنه دی ښکته کړی ، زمایقین دی چې دافغانستان غیور، ننګیالی اونړوولس به نن هم خپل روایات کوساتي،

ستاسوبه یاد وی ، چې لس کاله مخکې چې دافسي جومات دبې عزتي ربړه پیداشوه ، هغې دتوحیددپیرولپاره دټپچیني کارکړاوهغوی دخپل روحاني ، اخلاقي ، اقتصادي اوټولنیزواقداروډساتنې د اسلامي غونډې په نامه یوه آزاده اداره جوړه کړه ، له شلو پرته ددې غونډې قیام داسلامي ملت دقوت لپاره یومهم ګام و.

خوحقیقت دادی ، چې زموږددې ټولو زیارونوسره سره نن هم فلسطین ولس دخپل کوراوانساني حقوقو څخه محروم دی ، دغوروړداده چې:

اسلامي امت ولې په ډول ډول ربړواخته دی ، اوداسلامي هیوادونو سالمیت ولې له خطرونو سره مخ دی ؟

زمایقین دی ، چې تاسوبه پرډې اونورو داډول کموپوستنوځوځل غورکړی وی ، اوتاسو به دخپل بصیرت خپل ځیرکتیا اودخپل تجربې پراساس دهغې حل هم ځیړلی وی . زه ددغه ربړوکوم وعظ اوتلقین کول نه غواړم ، خوزه پدې پوښتنو له غورنه وروسته دې نتیجې ته رسیدلی یم ، چې زموږ دکړنودکمزوري اصل لامل زموږ دایمان کمزوري ده ، موږ دخدای (ج) درسي دټینګښت دشوی په لوړاواز کوو، خوپه حقیقت کې مونه دارسي نیولی او نه زموږ په زړونو کې رښتیاني اسلامي جذبه ځپې وهونکې ده .

موږخپل ورځني ژوند دمادیت پرخواورخوځولی ، اوداموهیره کړې ده چې اسلام دهغه دین دی ، چې دانسان پرروحاني ارامتیا سربیره یې دهغه ، مادي اړتیا وې هم په احسنه طریقه حل کړې نوزما په خیال دوخت مهمه اړتیادا ده چې ترټولو وړومبی خپل زړونه وازمایو، پخپلو ګریوانونوکې وګوروخپل ایمان ځواکمن ، اوخپل ایکي نیغې کړوکه داکارموکړ . نو باوروکړې ، چې دبهرنیو ځواکونو پرضدبه موخپله کلاګوی کړې وي .

اسلام دژوند مکمل قانون دی ، چې نورو مذهبونو اونظریاتو له دزغم اوتحمل درس ورکړی موږ مسلمانان پرنورو خپل نظریات نه تحمیلوو ، خوداهم نشو زغملی ، چې په زوراباندې دکومې نظریې دتحمیل زیاروګالل شي دنظریاتو خپل ځای اراهمیت وي ، اوزه فکر کوم ، چې جنګ په نظریاتي سنګرکول پکاردي ، دتوپ او توپک په زوردیوی نظریې بریالی کول یایې پرنورو دتسلط زیارګالل ، له هری مخې دغندلو وړدي .

دملت وروڼو!

په افغانستان کې راټوکیدلی بدلونونه موږدزیاتي پاملرنې اوتشویش په سترګو ګورو ، په تیرودوو کالوکې څوبدلونونه رابنکاره شول ، اوداافغاني مهاجرینو په شکل ئې یې اثر نیغ په نیغه پرپاکستان هم ورپریوت .

اوزموږ دسرحدونو خلاف ورزی هم وشول ، خوله دې سره سره موږ تل دډیر ضبط اوتحمل نه کاراخیستی ، اودابدلونونه هو دافغانستان دننني پېښې ګڼل او له افغانستان سره مودمعمول برابر دښو اړیکو دجوړولو هرلازم زیارګاللی خو اوس اوس هلته دغیرملکي وسله وال مداخلت له کبله حالت له یوی مخې اوښتی دی پدې سبب دبین الملل امن اوروغتیالپاره لېرې رسیدونکی اثرات ترتیب شوي دي ، چې داسلامي نړۍ لپاره ځانګرې اوټول دنیالپاره په عام ډول تشویشناک دي ددویم لوی جنګ نه وروسته دالومړی ځل دی چې یوځواکمن ګاوندي هیوادیوآزاد اوخپلواک اسلامي ملک دخپل جارحیت نښه ګرځوي موږ ویریږو ، چې دطاقت په زوردنورو دراپرځولو دازیارکه په وخت ونه تمبیږي ، نو نړیوال امن اودکوچنیو هیوادووجود به په خطره کې ولویږي .

یعنې که داروایت همداسې وچلیږ نوزن چې دافغانستان کوم حال دی ، سبا له دبل هیوادهم کیدای شي آیاموږدانساني پرمختیاله زرونوکالو وروسته بیا دجهالت دهغه وخت په لوروان یو ، چې هلته دانساني ژوند ترټولو لوی حقیقت،طاقت اوصرف طاقت دی ؟

ایاموږ دهغه منزل په لوروان یو چې ځواکمن هیوادونه کمزوري یې ویړي تیروي ؟ که چرته داسې وي ، نودانساني پرمختیا دامنزل به تباهي اوچې څومره لری وتمبیږي هومره به بهتروی .

داسلام وروڼو!

داسلامي کنفرانس داغونډه باید دزوردارو بیانونو پوري محدوده نشي ، موږ باید دحالاتو سنګیني اودخپل مرام ژوراحساس ولرو ، داسلامي اقدارو ، روایاتو اوثقافت علمبرداروافغانانو وروڼو دآزاد او خپلواک هیواد افغانستان اعلی حاکمیت اوآزادي چې څومره پایمال شوي ، پردې دژورتشویش اظهارکافي نه دی موږ په افغانستان کې دمیشتو وروڼو سره دخپل همدردي داظهارپروخت باید ددې خبری زیاروګالو ، چې افغانستان له روسي پوځونو ژرترژره په پوره ډول خالي کړو .

له دې غونډې نه په څرګندوڅکو کې روس ته داپیغام رسول پکاردی چې اسلامي نړۍ په افغانستان کې دروسي پوځونوشته وال دتشویش په سترګوګوري اوغواړي چې هلته دپوځي مداخل پیل شوی لړی ژرترژره ختمه شي ، یواځې له همدې اقدام نه وروسته داسلامي نړۍ اوروس ترمنځ دګډاعتماد او مرستې اړیکې موثري فعالیدلی شي . زه خوښ یم چې دغیرملکي وسله وال مداخلت پرخلاف زموږداصولي دریځ ملاتړ ته دنړیوالې وروړول لوی حمایت حاصل دی دملګرو ملتونو په غونډه کې یوسلو شلورو ارکانو پرافغانستان دروس تیري غندلی ، اودغیرملکي پوځونو غیرمشروطه ، سمدستي اودمکمل واپسي غوښتنه یې کړې ده .

دملګرو ملتونو ددومره دروند اکثریت دارایه دانساني ضمیرهی لوڅه اوازدی ، چې ورته دټول نړۍ پاملرنه پکارده څکه چې دضمیراواز له پامه غورځول ، انسانیت دمرګ غیږی ته ورغورځول اوورسره برابردي . د ی اصولو ته عمل جامه وراغوستل ، اودحق دی اوازله دقوت ورکولو لپاره داسلامي ملت دبهرنیو چارو دوزیرانو داغونډه نن جوړه شوی ده .

نن موږ ټول دتاریخ په داسې یوه مهم کړلیچ ولاړیو ، چې دټول نړۍ ورته سترګې دي ، نن راباندې یوه درنه ذمه واري راپریوتې ده ، نن اسلامي امت دی خبری ته سترګې په لاردي چې دخارجه وزیرانو



داغونډه په یو اسلامي هیواددغیرملکي جارحیت له منګلو نه دبچولولپاره څه اقدام کوي .

داسلام وروڼو !

دافغانستان دحالاتو یوه نیغ په نیغه نتیجه داده ، چې تراوسه دپنځولکوپوري افغانانو خپل کورونه پریښي ، اوپه پاکستان کې پناه اخیستلو ته اړوتي ، څومره چې دافغانستان حالات ورځ په ورځ خرابیږي په پاکستان کې دافغان مهاجرینو شمیرزیاتیږي .

بې کوره اوبې سروسامانه مهاجرین چې ګڼ شمیر یې ماشومان ، سپین ږیري اوښځې دي ، دخپل دین عقیدې آزادي اودخپل ژوند دساتلو لپاره په هجرت مجبورشوي دي ، موږ هم دافغاني وروڼو پالنه داسلامي اوانساني جذبې لاندې کوو ، که زموږ په میلمه پالنه کې کوم زیان وي ، دهغې لامل دوسایلو کموالی دی زړه تنګوالی نه دی . زه ستاسو په خدمت کې داعرض کوم غواړم ، چې دافغانستان وضعیت اومهاجرافغان مسلمانان یوازې دپاکستان ربړه نه ده بلکې داړګردې اسلامي نړۍ اوجهان مسئله ده موږ دخپل دسترخوان برابرددې غمزپلو وروڼو مرسته کوو اوانشاءالله همداسې به دوام ولري ، خودهغوی مرسته باید یوازې دپاکستان وسایلوته اړنه وزې څکه هغوی دګردې نړۍ دپاملرنې اومرستې مستحق دي . پداسې حالت کې چې کومو بین الملل ادارو او هیوادونو دپاکستان لاس نیول دستاینې اوشکر یې حقداردي خوداړتیا ووکوم امبارچې زموږ مخکې پروت دی دهغې دپوره کولولپاره ترپخوازیات دنورو کوششونو ضرورت دی .

داسلام وروڼو !

اصلي ربړه دپاکستان پرځمکه ددې مهاجرینومرسته نه ده ، بلکې اصلي مسئله دافغانستان دننني وضعیت دی ، ترڅو چې هلته داصلاح شکل نه وي پیداشوی مهاجرین به بې کوره وي ، انساني روحونه به ضایع اوانساني اصول به دپښولاندې کیږي موږدافغانستان اوسیدونکي ته چې له موږ سره داسلام په ابدي رشتو تړلي ، دهمدردي اودوستۍ جذبات لرو .

اوهیله لرو ، چې دهغوی دستونزودوررختم شي ، اوهغوی دخپلوخوښې اوعقیدې برابرژوند تیرکړی .

نن موږ په بنسټیزډول پرافغانستان دروسي تیري نه دراټوکیدلی نازک حالت دڅیړلولپاره دلته راټول شوي یو زه له دې غونډې نه افغانانو وروڼو ته یقین ورکوم ، چې داغونډه دلته جوړول ددې خبرې دلیل دی ، چې دغم پدې شیبو کې هغوی یوازې نه دي ، بلکې ګردې نړیواله وروروولی له هغوی سره ده .

دافغانستان دربړې څواړخې ته ماستاسوپاملرنه واړوله ، زماباوردی چې دغونډې پروخت به تاسو دخپل عقل او پوهې خپل تجربې اوخپل بصیرت برابر ددې ربړې سم ټول څواړخي څیړلی وي اودعمل وړپریکنده نتیجوته به رسیدلی یاست ، خوبیو لوری چې ورته په ځانګړی ډول ستاسو پام اړول غواړم ، هغه دادی ، چې په راتلونکي کې ددا سې حالت نه دبچیدو لپاره داسلامي هیوادو نو فرد ، فرد ددفاع پرځای باید په اجتماعي ډول داسلامي امت دبقا او ساتنې لپاره فکروکړي ، که موږ ځان له دیوی نیمې ښتنې خپل جومات جوړکړواودهغې دساتنې زیارچاری وساتو، زه ویریږم ، چې دانفرادي زیارونه به مخ ته راتلوونکې توپانو ته ونه تمبوی .

تاریخ شاهددی چې له توپانونو نه هغه قومونه بچ کیدلی شي ، چې پخپل ټولنیزځواک او پوره طاقت له توپانونو سره په جنګي ازمیښتونو پوهیدلی شي .

زموږداسلامي دین له مهموبنسټونو نه یومهم اصل داسلامي امت لایام دی ، اودادی اصولو بنیادی فلسفه ده . چې ترڅو ددې امت ټول ارکان سره متحد اویو دبل په غم اوخپګان کې شریک وي ، پرهغوی کوم دردنشي راتلی ، داسلامي امت تیام خدایي حکم دی ، دهغې نه منل دخدایی (ج) حکم نافرمانی ده اودنافرمانی سزادعبرت دړدې زموږ دعادت ، چې خدای (ج) موږ له نافرماني وساتي ، اوداسلامي امت دقیادت لپاره دې توفیق راپه برخه کړي .

ددنیوي ربړو دحل لپاره له انساني زیارونو سره سره دالله (ج) داسکامو دتعمیل هم ضرورت دی اودالله (ج) بنسټیز حکم پخپله په کلمه طیبه کې درج اوهغه دادی ، چې لااله الالله محمدرسول الله بل

(٥مخ)

دژنیوتړون په باب دپاکستان دجماعت اسلامي دریځ

دژنیو دتړون په باب دپاکستان داسلامي جماعت دلومړي مرستیال امیرپروفیسرعبدالغفور«احمد» مرکه
جون ۱۹۸۸ م
ژباړن: فضل مولالاټون

چاچي لاسلیکونه کړي هغوی هم دغه تړون نه مني:

دپاکستان داسلامي جماعت لومړي مرستیال امیرپروفیسرعبدالغفور«احمد» دژنیو دتړون په باب دخپلو خیالاتو دڅرګندولو په ترڅ کي وویل،

چي دپاکستان له نظره دري مهمي خبري دي:

۱ـ دمهاجرینو په روغه اوعزت سره بېرته ستنېدل.

۲ـ دامن اوامان قایمېدل اودیوه نماینده حکومت منځته راتګ.

۳ـ له روسانو سره دپاکستان ښې اړیکي قایمول.

ترکومه ځایه چي دژنیو په تړون پوري اړه لري، دغه معاهده دګېږ دکمولو اودلانجي دحل کولو لپاره شوي ده.

خود پېښو اوحالاتو له مخي سړی ویلای شي چي پخپله دواړه لوري روغ نیتي نه دي، څکه چي کله هغوی یودبل دلیدلو لپاره حاضرنه دي نوبیادتړون حیثیت څه دی! له دي نه داخبره واضحه ښکاري چي هغوی دغه معاهده منل نه دي، پرکومه چي پخپله هغوی لاسلیکونه کړېدي. زما په نظردانیمګړي معاهده ده که دپاکستان حکومت ترلاسلیك دمخه دخپلوقانوني پوهانو اومشاورینو سره یې په دي لړکي مشوره کړې وای نونتایج به یې ترزیاته حده دپاکستان په حق وای، څومره شك اوشبهې چي دي هغه دادي چي په دغه تړون کي دمهاجرینو دبېرته ستنېدو په باب مبهم اندازخپل کړای شوی دی، چي داخبره تري ښکاري چي دمهاجرینو په ستنېدو کي به نور مشکلات راولاړشي، اوپه افغانستان کي چي داوخت کوم حالات دي هغه به نورهم خراب شي، لاچي دروس سره چي زموږ ګاونډي دي) به دحالاتو دخرابوالي له امله نورتاوتریخوالی پیداشي.

دخبرو اترو په لړکي ایران له لومړي سرنه یوډول دریځ خپل کړی و، اوویل یې وو چي موږ ددي شخړي اصل لوری نه یو. بلکه اصل جهتونه افغاني مجاهدین اوروسان دي چي پوځونه یې په غیرقانوني ډول افغانستان ته راننه ایستي.

ددي پرخلاف چي پاکستان کوم دریځ خپل کړ، هغي پاکستان ډګردي لانجي یولوري وګرځاوه، اوس چي معاهده شوېده، مهاجرین به هم بېرته ځي، خوپه افغانستان کي دهغوی لپاره حالات برابرنه دي،

په اصل کي دغه معاهده په افغانستان کي دجنګ دپای ته رسولولپاره نه ده بلکه دروس

اوامریکا دخپلوګټو دپوره کولو معاهده روسان به داکوښښ کوي چي په افغانستان کي دي دروسانو مخالف حکومت منځته نه راځي، ددي کارلپاره به هغوی خپل ټول وسایل په کاراچوي. دملل متحده دچارو دګډون په باب هم همدغه ویل کېږي، چي لکه دنورو نړېوالو پېښوپه څېربه یې دلته هم کردارانغېزمن نه وي.

پاکستان هم داراپي چي دنجیب حکومت یې په رسمیت پېژندلی نه دی. خودتړون په لاسلیك کولو یې په عمل توګه دنجیب حکومت په رسمیت پېژندلی دی.

ترکومه ځایه چي په روس پوري اړونده ده، هغوی دخپلوپوځونو دبېرته ایستلو پریکړه کړېوه، که معاهده نه وای شوی نو دروسانو پوځونه بېرته تلل، خواصل مسئله دمهاجرینو دبېرته تلو ده چي امکان نه لري، جنګ به هم جاري وي دغه ډول راتلونکي اندېښني لاپسي زیاتېږي، دپاکستان لپاره به مشکلات لا پسي زیات شي، څکه چي موږ پوهېږو چي پاکستان دلویو ځواکونو دفشارلاندي پرمعاهده دستخط کړېدي اوددي خبري امکان شته چي حالات به پسي زیات خراب شي.

***

دایوازېنې معاهده ده چي پکي دجګړي دادامي پریکړه شوېده:
پروفیسورخورشیداحمد:

دپاکستان دسنا غړي پروفیسرخورشیداحمد دپارلمانو دواړو مجلسونو ګډي غونډي ته دژنیو دتړون اودراتلونکو حالاتو په باب موزونه تبصره وکړه او دآینده لپاره یې پروګرام وړاندي کړ، دژنیودتړون په باب دهغه تبصره وه چي دایوازېني غونډه ده چي دجنګ جاري ساتلوپریکړه پکي شوېده، ددغه تړون په وسیله نه جنګ بندېږي اونه به دمهاجرینو دبېرته تلو مسئله حل شي. هغوی وویل چي دمعاهدي چوکاټ غلط دی، نامربوطي ډول اومعاملات بنیادګرځول شویدي، سربېره پردي الفاظ یې کمزوري اوله عیبونوډك دي.

دخبرو اترو په دوران کي نه تن آساني نه کاراخیستل شوی دی. لکه چي معاهده داسي ترتیب شوه چي دروسي بربریت اوتجاوز پکي یادونه هم نه ده شوي، ددي

پرخلاف دمعاهدي لیك اوبیان پاکستان دافغانستان په چارو کي دمداخل مجرم ښیي اوترټولو غټه خبره خوبیي داده چي داصلي لوري یعني افغان مجاهدینو یادونه هم پکي نه ده شوي، دهغه مشوره وه چي دپاکستان حکومت باید دغه معاهده کوم ستربریالیتوب اودشخړي مکمل حل ونه ګڼي پروفیسرخورشید احمد دهندي اوروسي ایجنټانو دچټك حرکت دیادونې په ترڅ کي دپاکستان حکومت خبرداړکړ چي دغه دنورو دلاس الې حکومت اوملت دمهاجرینو سره دجنګولوکوښښ کوي.

پروفیسرصاحب دجینوا له معاهدي نه وروسته دافغان بحران په دي مرحله کي دیو بل لوره سویه دسیاسي چارو دکمېسیون جوړولو مشوره ورکړه چي دباندنیو چارو دوزارت لوړرتبه مأمورین اودپارلمان غړي پکي شامل وي. اوهمدغه کمېسیون دافغان مسئل دګردوچارو لارښوونه اوپالنه وکړي.

جماعت اسلامي دمرکزي اجرایي پریکړه لیك:

دپاکستان داسلامي جماعت اجرائیه شوري دژنیو پرتړون خپل ژورخفګان اوبې باوري ښکاره کوي، اوپه عمومي توګه دنړۍ دمسلمانانواوپه خصوصي ډول له خپلودیوادوالو نه هیله کوي چي لکه دپخواپشان دافغانستان دجهادملاتړاو مرسته جاري وساتي. ترڅو چي په افغانستان کي دخدای (ج) دلاري مجاهدین بریالیتوب ته ورسي او دافغانستان غیرتي مسلمانان په آزادي او خوښه دخپل ایمان اودین سره سم خپل حکومت جوړکړي.

ښکاره ده چي دپاکستان حکومت دسترو ځواکونو دفشارله امله پرډغه تړون لاسلیك کړېدی، اوپه نتیجه کي یې دخپل هغه اصول موقف نه لاس په سرشوی ښکاري چي له پېله پري دحکومت بهرني سیاست ولاړو، اودکومو په وسیله چي نه یواځي دپاکستان دشمالي اولویدیځو سرحداتو ساتنه وکړای شوه، لاچي دخپل ستراتیژیك اهمیت سره سم یې نړېوال رول اداکړ.

دغه معاهده دپاکستان حکومت دخپل هغه وعدي پرخلاف کړي چي هغوی به دافغانستان مجاهدینوترضایه لاف پرکومه معاهده د لاسلیك نه کوي.

همداډول په دغه معاهده کي دروس اوامریکا غوښتني پوره کړای شوي. خودپاکستان مسایل اومشکلات همغسي پاتي شول، روسي پوځونو چي کوم حکومت پرافغانستان مسلط کړی و، هغه به هم پاتي وي، جنګ به جریان لري اومهاجرین به بېرته تللای نه شي. ددغه معاهدي په کولودپاکستان حکومت هغه اساسي کېل چي تاریخ ورته سپارلی وه دواشنګټن اوماسکو په لاسو کي ورکړه.

دمجلس په نظردغه معاهده دافغانستان شخړه حل کولای نه شي څنګه چي دافغانانو لس کلن جهاد روسان په شاتلو ته مجبورکړي همدغسي به دراتلونکي افغانستان فیصله هم دجهادپه وسیله کېږي، له دي امله موږ دپاکستاني مسلمانانو نه په ځانګړي توګه اودنړۍ دآزادي خوښوونکیوځواکونو نه په ځانګړي توګه هیله کوو، چي دافغانستان دجهاددمکمل ملاتړ تاریخي عمل جاري وساتي، دغه جهاد چي دروس غابښونه یې ورمات کړل هغه به ان شاءالله له روس کښېنول حکومت نه هم افغانستان آزادوي، اوهلته به یواسلامي حکومت قایموي.

داوخت په ګرده نړۍ کي مسلمانان دیوه ازمېښت له دوران نه تېرېږي، داسلامي امت دښمنانو یې دمنځته وړلو لپاره پټه‌ېل ده. پرفلسطیني تش لاسیو مجاهدینو دظلم غرونه رانړېږي، همداډول په نورو سیموکي چي مسلمان اقلیتونه دي ددښمنانو دظلم ښکار ګرځي، ددغه امتحان په شېبوکي آزادو اسلامي حکومتونو ته دراندې مسئولیتونه متوجه کېږي، اودهغوی ترمنځ اتحاد، یوړنګي اوله یوبل سره مرستي ته ترېل هروخت نه زیاته اړتیا ده.

دپاکستان داسلامي جماعت داجرائیي دغه غونډه په نازکوحالاتو کي دسعودي عرب اوایران ترمنځ دسفارتي اړیکوپه پرېښودلو خپله اندیښنه څرګندوي، دعراق ایران جنګ چي پای ته رسېدلو نښې یې نه ښکاري، له لومړي سرنه اسلامي نړۍ ته دنه اټکلېدونکي زیان سبب شویدي، تېرکال دحج پروخت پېښي دګردي نړۍ

مسلمانان غمجن کړېدي مسلمانان دایران عراق جنګ دپای ته رسېدلو اودحج په وخت کي بیا دکومي ناوړه پېښي دنه کېدلو غوښتونکي دي چي دایران اوسعودي عرب ترمنځ دسفارتي اړیکوداقطع کولودردناکه پېښه رامنځته شوه.

دالمونه دګردو اسلامي حکومتونو نه دردمندانه هیله کوي چي هغوی د دغو حالاتو له مسلاسي اصلاح وروسته مؤثرګامونه پورته کړي، دخپلمنځي اختلافاتو دمنځه وړلو کوښښونه چټک کړي، چي اسلامي نړۍ متحده او منظمه شي اودخپلودښمنانو مقابله وکړای شي، اودمظلومومسلمانانو اغېزمن ملاتړوکړای شي.

همداډول دغه غونډه له سعودي عرب اوایران دحکومتونو نه هیله کوي چي هغوی دخپلوسفارتي اړیکو دروغولو لپاره تیارشي؛ اودخپلواختلافاتو دپای ته رسولو لپاره تیارشي، څکه چي خپلمنځي اختلاف دټول اسلامي امت لپاره دتشویش وړ دی.

داجرایي دغه غونډه دپاکستان له حکومت نه غوښتنه کوي چي پرخپله هغه وعده دي ټینګ اوسي چي دافغان جهاد مرسته به جاري ساتي اودافغانستان دغیرتي اومظلومو مسلمانانولپاره به په پاکستان کي همغسي آزادي وي لکه په تېرو کلونوکي چي وه.

(۵مخ)

داچي نن دسري امپراتوري

له دوی نه پېرداسي وو چي کله به پېښور اوډيډل ته ورسېدل، په بې صبري به یې غرب ته دځان رسولو انتظارکاوه اوحتی له روسي وحشت نه به یې ځان پدي سیمه کي هم مصؤون نه محسوساوه، خودملت دغم اوویرګالل یې دېل چامسئولیت ګاڼه ـ

دوی نه یواځي دروسي وحشت له ځورېدونکو نه زموږ دمظلوم ملت دخلاصون په باب دمسئولیت احساس نه کاوه بلکې له روس سره یې مقابله له تهلکې اوانتحاراوپه هغه کي ګډې بری له خوب اوخیال پرته بل څه نه ګاڼه.

همدارنګه افغان ولس په یادلري چي دامریکادهغه وخت جمهوررئیس په ګران افغانستان باندي دروسانو دیرغل په باب ویل چي «که روسان له خیبرنه پښه راواړوي نودامریکا له مقابل سره به مخامخ شي ....» یعني معني یې داچي دافغانستان له اشغال نه ورتېرېږو اموږ به دامریکا دهغه وخت دملي امنیت دسلاکار«برژنسکي» خبره چي دروسانو تریرغل یوه میاشت وروسته یې په اسلام آبادکي دپاکستان شهید جمهوررئیس جنرال محمدضیاالحق ته کړې وه کله هم هیره نه کړو. برېژنسکي شهیدضیاالحق ته ویلي و: «دافغانستان دوسیه وتړه ـ هغه اشغال شوی رګنه داوایه چي دپاکستان ددفاع لپاره څه وکړو ....»

همدااسلام و چي په همااغوخطرناکو اوسختو لحظوکي یې افغان ولس ته د«احدی الحسنیین» (یابری یاشهادت) دستراتیژۍ اوخط په ورکولو سره دتصمیم اومقابلي همت اوجرئت ورکړ. یواځي اسلام و چي زموږملت ته یې دمقاومت اوانقلاب پیغام ورکولای شوای اوورېي کړ. اوهم یواځي اویواځي داسلام دحاکمیت لپاره کلونه کلونه پخوادهجرت اوجهاد په لاروان شوي مومن مبارز شازلمیان وو چي دخپلو وینو اوسرونو په بې باکي نذرانې دملت له ناموس اوشرافت نه دفاع ته ودریدل اوددوی دهمدې میړانې، شهامت، غیرت اوسربښندنې په ځواب کي وچي ملت په حیرانوونکې چټکتیا، اخلاص اوچمتوالي ورسره سنګر اوجبهې ته ودوت، همداحقایق دي چي نن له ټولو توطیواوسازشونو سره سره افغان ولس داسلام له حاکمیت او داسلام دغیرتمنو اوتوریالیو مجاهدینو له ملاتړنه په هیڅ توګه اوښتوته چمتو ندی.

همدارنګه دلوی خدای ددې عظیم رحمت شکرپرځای کول په کاردي چي نن زموږ دجهاد اومقاومت په نتیجه کي نه یواځي روسان له ګران افغانستان نه په وتو مجبورشوي بلکې دهمدې اسلامي انقلاب دعظمت اوحماسو له امله دروسي کمونستي امپراتوري دړې وړې کیده پېل شوي اودهغوی تراسارت اوغلامي لاندي ملتونه یوپه بل پسي دقیداومحکومیت ځنځیرونه ماتوي او دمسکو دامپراتوري دکبراواستبداد برجونه نړوي. اوپدې ډول زموږ قهرمان ملت دنړۍ په تاریخ کي دیوه نوي دوران دبنسټ ډبره کیښوده.

شهادت اداري دروسانو دیرغل دغندني په مناسبت وټیله چي خپلوګرانو لوستونکوته یوه ضمیمه وړاندي کړي. موږددي ضمیمې لپاره زموږ دقضیې په باب دیو شمېر اسلامي شخصیتونو تاثرات اونظریات اوځورېدونه اومرکې انتخاب کړي.

خوزیاته مو څودحزب اسلامي افغانستان دامیرهغوپیغامونو، وینااوو اومرکوته ورکړې چي دروسانو دیرغل دبیلابیلو کلیزو په باب اویانورو وختونوکي یې کړي دي. موږ داڅکه دخپلو لوستونکو لپاره زیات ګټوروګڼل چي له یوي خوا پکي اصلا دهغي عقیدې اوطرزتفکرتشریح اوتفسیرده دکوم پربنسټ چي دروس پرخلاف دافغان مسلمان ملت ناتمامه جګړه اومقاومت رهبري شوي.

له بلې خوا پکي وخت پروخت دملت دمواضعواوارمانونوښه نمایندګي، دهغه دقهرماني اوحماسوتمثیل اودهغه دکړاوونو اودردونو انځورنه اوددښمن دوحشت، داړه ماری اوذلت تحلیل اوتشریح شوي اوهم یې په مطالعه کولو سره یوځل بیا داپیغام دلوستونکي په ذهن کي ګونګسي کوي چي زموږ مقاومت دیوه مشخص خط اوطرزتفکرله مخي رهبري شوي اونن چي پرهرڅه زموږ دملت مقاومت اومبارزه تمامه شوه. زموږ مومن انقلابیون داسلام له عقاید وامشخصاتو اودخپل اسلامي انقلاب له ماهیت اوځانګړتیا وونه دمتعهدانه برداشت اودرك له مخي پداسي ورځواووختونوکي پېشبین وو چي نورو په لیونتوب اوتخیل ګاڼه.



برادرحکمتیارامیرحزب اسلامی ازسنگرهای فخرآفرین مردان مومن دیدن می نماید

کی می تواندازدل این کودکان مظلوم نفرت روس ومزدوران فرومایه اش را محونماید

مسخره گیست اگر پنداشته شودآنانیکه دشواری های هجرت راپذیرفته اندبجزحکومت اسلامی
به چیزی دیگررضایت دهند

این طفل چشم به انتظارکی دارد به چه گناهی ازاوپدرومادرش راگرفتند

فقط اسلام است که این مردریش سفیدراآماده چنین قربانی نموده است

درعکس موترهاوتفریرهای دشمن رامشاهده می کنیدکه مجاهدین سلحشوربابه غنیمت گرفته اند